بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

تاريخ: ۱۶/ ربیع الاول/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۹/ميزان/ ۱٤۰۲ هش

☐عاجل ☐عادی ☐اطمینانیه ☐ابلاغیه ☐سایر

**متحدالمآل نمبر: ۱۳**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!**

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: په تاریخ ۱۴۴۵/۲/۱۲هق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په مشرۍ د ستري محکمې د محترم رئیس او قاضي القضاة صاحب، د ستري محکمې محترم قضائي معاون صاحب، د جنوب لویدیځ زون د تمیز عالي ریاست رئیس او د ستري محکمې محترم قضائي معاون صاحب، د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست محترم رئیس صاحب، د کندهار ولایت د شهري محکمې د امنیت عامه دیوان محترم رئیس صاحب، د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو محترم معین صاحب، د ننګرهار ولایت محترم والي صاحب، د بدخشان ولایت محترم والي صاحب، د کندهار ولایت محترم والي صاحب، د هلمند ولایت محترم والي صاحب او د فراه ولایت محترم والي صاحب په ګډون مجلس دائر شو چې په یاد مجلس کې د تریاکو او چرسو د کرهنې او د تریاکو او چرسو د خرڅوونکي، انتقالوونکي او استعمالوونکي، همدارنګه د نورو نشه ئي موادو د تولیدوونکي، خرڅوونکي، انتقالوونکي او استعمالوونکي لپاره جزاګانې تاکل شوي وې چې د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا په ماده وار شکل ترتیب او د ستري محکمې د مقام د دفتر ریاست د مکتوب نمبر (۵٤بر۲۹) مورخ ۱۴۴۵/۲/۲۰هق په توسط د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شوي، په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۱۳۹۷) مورخ ۱۴۴۵/۳/۱۵هق مصادف ۱۴۰۲/۷/۸هش په اساس داسي هدایت وفرمایلو:

((وکتل سو:

وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

وبعد: د نشه یي موادو متعلق جزاګانو کړنلاره چې پر (۱۱) یوولسو موضوعاتو او (۳۲) دوه دیرش مادو مشتمله ده، منظور ده.))

بناءً د نشه یي موادو متعلق جزاګانو کړنلاره چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائید شوي، د ستري محکمې د محترم مقام د شفاهي هدایت په اساس، ددې متحدالمآل مل په (٦) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو ټول محاکم د مواد مخدر په موضوعاتو کې د یادې کړنلارې موافق اجرآآت تر سره کړي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۱٦ ربیع الاول ۱٤٤٥ هق

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

## د نشه يي موادو متعلق جزاګانې

الحمدلاهله والصلاة على اهلها امابعد: فقد قال الله تبارک وتعالى: اعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم: يا ايهاالذين آمنو انما الخمر والميسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون.

عن جابر-رضي الله تعالى عنه- أن رجلاً قدم من جيشان، وجيشان من اليمن، فسأل النبي صلى الله عليه وسلم عن شراب يشربونه بأرضهم من الذرة، يقال له: المزر، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: «أو مسكر هو؟» قال: نعم، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «كل مسكر حرام، إن على الله عز وجل عهداً لمن يشرب المسكر أن يسقيه من طينة الخبال» قالوا: يا رسول الله، وما طينة الخبال؟ قال: «عرق أهل النار» أو «عصارة أهل النار». صحيح مسلم (۳/ ۱۵۸۷)

"اتفق أهل السنة والجماعة على حرمة المسكر، القليل منه والكثير سواء". المبسوط للسرخسي: (۳/۲۴)

واتفق الفقهاء على تعزير متناول المخدرات بدون عذر كما في حال التداوي والتعزير يكون بالتوبيخ والضرب والحبس والتشهير ... وغير ذلك مما يراه القاضي أو الحاكم زاجراً ورادعاً الناس عن اقتراف الجرائم والمنكرات.( الفقه الاسلامي وادلته، ۷/۵۵۱۹)

والتعزير مفوض إلى رأي الامام ( رد المحتار، ۴/۶۰)

په تاريخ ۱۴۴۵/۲/۱۲هـق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى په مشرۍ د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب، د سترې محکمې محترم قضائي معاون صاحب، د جنوب لويديځ زون د تميز عالي رياست رئيس او د سترې محکمې قضائي معاون صاحب، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست محترم رئيس صاحب، د کندهار ولايت د ښهري محکمې د امنيت عامه ديوان محترم رئيس صاحب، د کورنيو چارو وزارت د مخدره توکو محترم معين صاحب، د ننګرهار ولايت محترم والي صاحب، د بدخشان ولايت محترم والي صاحب، د کندهار ولايت محترم والي صاحب، د هلمند ولايت محترم والي صاحب او د فراه ولايت محترم والي صاحب په ګډون مجلس دائر شو چې په ياد مجلس کې د ترياکو او چرسو د کرهنې او د ترياکو او چرسو د خرخوونکي، انتقالوونکي او استعمالوونکي، همدارنګه د نورو نشه يي موادو د توليدوونکي، خرخوونکي، انتقالوونکي او استعمالوونکي لپاره جزاګانې ټاکل شوي دي چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
ټیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

## لومړی موضوع

## د ترياکو او چرسو د کرهنې جزاګانې

**لومړۍ ماده:** که يو څوک د نيم جريب څخه په کمه ځمکه د ترياکو يا چرسو کښت وکړي شپږ مياشتې بند ورکول کيږي.

**دوهمه ماده:** که يو څوک په نيم جريب ځمکه کې د ترياکو يا چرسو کښت وکړي نه مياشتې بند ورکول کيږي.

**دريمه ماده:** که يو څوک په يوه جريب او يا تر يوه جريب زياته ځمکه کې د ترياکو يا چرسو کښت وکړي يو کال بند ورکول کيږي.

البته د ترياکو او چرسو د کښت کرونکی که د ځمکې مالک وي، که اجاره دار او که شريک وي ټول په سزا کې سره برابر دي کښت يې ماتيږي او د پورته ترتيب موافق بند ورکول کيږي.

## دوهمه موضوع

## د خارج څخه د ترياکو او چرسو د را انتقالوونکي جزاګانې

**څلورمه ماده:** که يو څوک د خارج څخه چرس يا ترياک افغانستان ته را انتقال کړي که د دغه را انتقال شوي چرسو يا ترياکو وزن يو کيلو او يا هم تر يو کيلو کم وي را انتقالوونکي ته يې يو کال بند ورکول کيږي.

**پنځمه ماده:** که د دغه را انتقال شوي چرسو يا ترياکو وزن د يو کيلو څخه پورته تر پنځه کيلو پورې وي را انتقالوونکي ته يې دوه کاله بند ورکول کيږي.

**شپږمه ماده:** که د دغه را انتقال شوي چرسو يا ترياکو وزن د پنځه کيلو څخه پورته تر ديرش کيلو پورې وي را انتقالوونکی ته يې درې (۳) کاله بند ورکول کيږي.

**اوومه ماده:** که د دغه را انتقال شوي چرسو يا ترياکو وزن د ديرش کيلو څخه پورته وي، د هر لسو کيلو په زيادت سره يو کال بند زياتيږي البته نهائي جزاء يې اووه کلونه دي.

## دريمه موضوع

## د ترياکو، چرسو او نورو نشه ئي موادو د خرڅوونکي جزاګانې

**اتمه ماده:** که د خرڅوونکي (ساقي) سره نشه ئي مواد لکه: (هر نوع هيرويين، ترياک، چرس، ټابليټ کا، شراب، ترې ماډول ۲۵۰ ګرامه، زيکپ شيشه وغيره...) که تر پنځه ګرامه کم يا پنځه ګرامه پورې ورسره ونيول شي، يو کال بند ورکول کيږي.



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلورلارې، نهمه ناحيه ، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ويب سايت: ستره محکمه

**نهمه ماده:** که خرڅوونکي (ساقي) سره دغه نشه ئي مواد لکه: (هر نوع هیروېین، تارياک، چرس، ټابلیټ کا، شراب، تري ماډول ۲۵۰ گرامه، زیکپ شیشه وغیره...) که تر پنځه گرامه پورته تر دیرش گرامه ورسره ونیول شي دوه کاله بند ورکول کیږي.

**لسمه ماده:** که خرڅوونکي (ساقي) سره دغه نشه ئي مواد لکه: (هر نوع هیروېین، تارياک، چرس، ټابلیټ کا، شراب، تري ماډول ۲۵۰ گرامه، زیکپ شیشه وغیره...) که تر دیرش گرامه پورته تر سل گرامه ورسره ونیول شي دوه نیم کاله بند ورکول کیږي.

**یوولسمه ماده:** که خرڅوونکي (ساقي) سره دغه نشه ئي مواد لکه: (هر نوع هیروېین، تارياک، چرس، ټابلیټ کا، شراب، تري ماډول ۲۵۰ گرامه، زیکپ شیشه وغیره...) که تر سل گرامه زيات ورسره ونیول شي د هر سل گرامه په زياتوالي شپږ میاشتې بند اضافه کیږي البته نهائي بند اووه کلونه دي.

## څلورمه موضوع

## د نشه ئي موادو د استعمالوونکي جزاگاني

**دولسمه ماده:** د نشه ئي موادو استعمالوونکي (معتاد) وضعیت ته په کتلو د یوې میاشتې څخه تر شپږ میاشتو بند جزاء ده البته دغه سزا په دغه مقدار کي د ننه د قاضي و رأی ته مفوض ده.

## پنځمه موضوع

## د اومانو کونکي، رانیوونکي، خرڅوونکي، راوړونکي او د کارخانې والا جزاگاني

**دیارلسمه ماده:** د اومانو کوونکي ته دي اومان وروسوځول شي، لس ورځې حبس دې ورکړل شي.

**څوارلسمه ماده:** د اومانو انتقالوونکي دي سره د موټره درې میاشتې بندي شي.

**پنځه لسمه ماده:** د کارخانې مالک او کارکوونکو ته دي شپږ میاشتې بند ورکول شي، کارخانه دي د منځه یوړل شي او که کارخانه په کور کې وي، د کلي د مسجد امام او د کلي مشر دي د مؤظف مجاهدینو سره یو ځای د ورځې کور ته ورشي او کارخانه دي د منځه یوسي.

## شپږمه موضوع

## د ایف متعلق جزاگاني

**شپاړسمه ماده:** د ایف انتقالوونکي، خرڅوونکي او رانیوونکي سره چي لس او تر لس کیلو کم مقدار ایف مواد ونیول شي شپږ میاشتې بند دې ورکړل شي.

**اووه لسمه ماده:** د ایف انتقالوونکي، خرڅوونکي او رانیوونکي سره د لس کیلو څخه تر پنځوس کیلو ایف مواد ونیول شي یو کال بند دي ورکړل شي.




Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

**اته لسمه ماده:** د ایف انتقالوونکي، خرڅوونکي او رانیوونکي سره که د پنځوس کیلو څخه زیات ایف مواد ونیول شي په هر پنځوس کیلو شپږ میاشتې حبس اضافه کیږي البته نهائي حبس یې اووه کلونه دي.

## اوومه موضوع

## د شیشې او د شیشې د اجزاوو متعلق جزاګانې

**نولسمه ماده:** د شیشې په نوم د نشه ئي موادو د کارخانې مالک او کارکوونکو ته دي یو کال بند ورکړل شي او کارخانه دې د منځه یوړل شي.

**شلمه ماده:** د شیشې رانیوونکي، خرڅوونکي او انتقالوونکي سره چې یو کیلو او یا تر یو کیلو کم مقدار شیشه ونیول شي، یو کال بند دي ورکړل شي.

**یوویشتمه ماده:** د شیشې رانیوونکي، خرڅوونکي او انتقالوونکي سره چې د یو کیلو څخه تر پنځه کیلو پوري مقدار شیشه ونیول شي، یو نیم کال بند دي ورکړل شي.

**دوه ویشتمه ماده:** د شیشې رانیوونکي، خرڅوونکي او انتقالوونکي سره چې د پنځه کیلو څخه تر لس کیلو مقدار شیشه ونیول شي، دوه کاله بند دي ورکړل شي.

**درویشتمه ماده:** د شیشې رانیوونکي، خرڅوونکي او انتقالوونکي سره چې د لس کیلو څخه پورته مقدار شیشه ونیول شي د هر کیلو وزن په زیادت سره شپږ میاشتې حبس اضافه کیږي البته نهائي حبس اووه کلونه دي.

## اتمه موضوع

## د شرابو متعلق جزاګانې

**څلورویشتمه ماده:** د شراب تولیدوونکي، خرڅوونکي، رانیوونکي او انتقالوونکي او هغه څښوونکي چې حد یې ساقط وي، دوه کاله بند او نه دیرش (۳۹) دُرې دي ورکړل شي البته نیول شوي شراب به له منځه وړل کیږي او د شراب انتقالوونکي موټر حبس د قاضي و رأی ته مفوض دی.

## نهمه موضوع

## د خارج څخه را انتقالوونکي نشه ئي موادو متعلق جزاګانې

**پنځه ویشتمه ماده:** د خارج څخه واردونکي نشه ئي مواد لکه: تري ماډول، زیکپ بیله جوازه که ونیول شي او ټابلیټکا چې هیڅ جواز نه لري، دغه درې قسمه ګولۍ د یوې ګولۍ څخه تر لس ګولۍ پوري که چا د خارج هیواد څخه را انتقال کړې شپږ میاشتې بند دي ورکړل شي.



Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

شپږویشتمه ماده: د خارج څخه واردونکي نشه ئي مواد لکه: تري ماډول، زیکپ بیله جوازه که ونیول شي او تابلیټکا چې هیڅ جواز نه لري، دغه درې قسمه ګولۍ د لس ګولیو څخه زیاتې که چا د خارج هیواد څخه را انتقال کړې د هر لسو ګولیو په زیادت باندي شپږ میاشتې بند اضافه کیږي البته نهائي بند اووه کاله ده.

**لسمه موضوع**

**بې له جوازه د تیزابو واردونکي سزاګانې**

**اووه ویشتمه ماده:** هر نوع تیزاب بې له جوازه چې مواد مخدر په جوړیږي یا په مخدره موادو ګډیږي که د یوه لیټر څخه تر لسو لیټرو پوري له چا سره ونیول شي درې میاشتې بند دي ورکړل شي.

**اته ویشتمه ماده:** هر نوع تیزاب چې مواد مخدر په جوړیږي یا ګډیږي که بې له جوازه ونیول شي که د لسو لیټرو څخه تر پنځوس لیټرو پوري له چا سره ونیول شي شپږ میاشتې بند دي ورکړل شي.

**نهه ویشتمه ماده:** هر نوع تیزاب بې له جوازه چې د پنځوس لیټرو څخه زیات د یو چا سره ونیول شي د هر لسو لیټرو په زیادت سره درې میاشتې بند اضافه کیږي البته نهائي بند درې کاله دی.

**یوولسمه موضوع**

**د هغه دوا چې په تاریاکو ګډیږي، جزاګانې**

**دیرشمه ماده:** هغه دوا چې په تاریاکو ګډیږي راوړونکي، خرڅوونکي رانیوونکي سره که تر لس کیلو کم ونیول شي درې میاشتې بند دي ورکړل شي.

**یو دیرشمه ماده:** هغه دوا چې په تاریاکو ګډیږي راوړونکي، خرڅوونکي رانیوونکي سره که د لس کیلو څخه تر پنځوس کیلو ونیول شي شپږ میاشتې حبس دي ورکړل شي.

**دوه دیرشمه ماده:** هغه دوا چې په تاریاکو ګډیږي راوړونکي، خرڅوونکي رانیوونکي سره که د پنځوس کیلو څخه زیات ونیول شي په هر لس لیټرو درې میاشتې حبس اصافه کیږي البته نهائي حبس تر درې کاله پوري ده.

**یادونه:** د نشه ئي موادو هر هغه شی چې حبس ولري هغه دي د مؤظف هیئت په حضور کي له منځه یوړل شي.

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامي څلور لاری، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

د ذکر شوي شیانو څخه علاوه د هغه مخدره موادو چې لړ واردیږي او لست یې د دې کرنلارې ضمیمه دی، که کله د یو چا سره ونیول شي سزاء یې د قاضي و رأی ته مفوض ده.

دغه نشه ئي مواد چې سزاګانې یې ذکر شوي که چیرې د اسلامي امارت د مؤظف سره ونیول شي سزا یې د پورته ذکر شوي موادو مطابق ورکول کیږي اسلحه او وسائل دې ورڅخه واخستل شي عمومي کمېسیون ته دې وسپارل شي هغوی دې مربوطه مافوق ارکان ته تسلیم کړي هغه دلګی ته دې نه ورکوي چې دغه متهم کس پکښې وظیفه ادا کوي، او که د دوهم ځل لپاره په یاد عمل ونیول شو د صف څخه دې وایستل شي.

**(وهوالموفق)**

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af



پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تر مشرۍ لاندې د دایر شوي مجلس دوهمه پاڼه.

د امیرالمؤمنین حفظه الله [illegible] هدایات

استاد دوار کتابخانه
۶۷۴
تمدید وارده
۱۴۴۵/۳/۱۵

د افغانستان اسلامي امارت
د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دفتر
د دفتر ریاست
د صادرې شمېره: ۱۲۱ نېټه: ۳/۹/ ۱۴۴۵هـ ق

وکیل صاحب!

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

وبعد: د نشه یي موادو متعلق جزا گانو کمزلاوی چي پر (۱۱) یوولسو موضوعاتو او (۳۲) دوه دېرش مادو باندې مشتمله ده، منظور ده.

والسلام

د حکم شمېره: ۱۳۹۷
نېټه: ۱۴۴۵/۳/۱۵
۱۴۰۲/۷/۸

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست
د احکامو او فرامینو ثبت آمریت

د مستندي کتلې ... ریاست ته!

د افغانستان اسلامي امارت
د عالیقدر امیرالمؤمنین دفتر

د افغانستان اسلامي امارت
تایېدي ریاست دفتر